# د حضرت شاه بابا په کلام کښې بديعي حسن

## The Artistic beauty in the Poetry of Hazrat Shah Baba’s

Dr.Muhammad Jawad Shafaq [*]

**Abstract:**

Hazrat Shah Baba, a renowned Pashto poet and scholar of Persian and Arabic literature, lived during the era of Ahmad Shah Abdali. This paper explores the artistic beauty and intellectual depth in Hazrat Shah Baba's poetry, which is characterized by innovative rhymes, unique diction, and style. His poetic contributions have introduced a new charm to Pashto classical poetry. Moreover Hazrat Shah Baba, also known as Akhund Baba, was a prominent classical Pashto poet, scholar, and Sufi mystic. As the ancestral elder of the Sahibzadas of Char Chor village in Katlang, Mardan, he played a significant role in promoting Pashto literature and Sufism. Suchas his poetry reflects the influence of Rahman baba's school of thought, he followed the Naqshbandi Sufi order and received spiritual guidance from Akhund Sadique Pishoworni of Bunir, whom he considered his spiritual mentor.

**Keywords**: Hazrat Shah Baba, Pashto classical poetry, poetic diction, artistic beauty, intellectual depth, innovative rhymes, unique diction and style.

حضرت شاه المعروف اخون بابا د خپل وخت د پښتو کلاسيکي شاعرۍ ستر صوفي بزرګ شاعر دے او په فکري لحاظ سره د رحمان بابا د مکتب فکر پيروکار دے ـ د حضرت شاه بابا شاعري که هر څو د رحمان بابا د شاعرۍ په څېر هغسې ساده والے او رنګينوالے نۀ لري خو بيا هم د دوي فکري جمال نه پرته د دوي فني جمال ته که ځير کتنه اوشي نو د عربۍ عروضي نظام نه بنۀ خبر دے او په دغه تله ئې په خپله پښتو شاعرۍ کښې د بحر او وزن تجربې کړې دي او دا ئې د کلام اصل خاصه ده چې د ډکشن د لفظونو بندش د نوي نوي قافيو تړون چې څومره ښکلے رنګ او آهنګ د دوي د کلام ته ورکړے دے چې دا کمال ئې د صنائعو او بدائعو او ترکيبونو په ښکلي او فطري بيان طرز او انداز ذے چې د دوي کلام په فني پختګۍ کښې يوه لويه ښکلا پيدا کړې ده ـ

د دې نه وړاندې د صنائع بدائع په حواله لږ وضاحت هم ضروري يکار دے چې لږه رڼا پرې واچولے شي ـ علم بديع څۀ شے دے؟ د يو شاعر په کلام کښې هغه صنعت ګري او کاريګري دۀ چې دې سره په شعر کښې لفظوي او معنوي ښکلا پيدا کيږي په دې بابله سيد عابد علي عابد د علم بديع د حسن بنياد پحقله وائي:

---

[*] Lecturer in Pashto Department of Government Post Graduate College Mardan

"بدیع کی تعریف ہی سے معلوم ہوتا ہے کہ اِس علم کی قدر حسن ہے یعنی اِس کا مقصد یہ ہے کہ کلام میں عناصر جمال کی نشان دہی کرے اور تخلیق حسن کے گُر سکھائے۔ "(1)

هم د دې اُصولو په رڼا کښې د مرزا محمد عسکري په نزد د علم مطلب داسې دے:

"وہ علم جس سے کلام کی لفظی اور معنوی خوبیاں دریافت ہو سکیں۔"(2)

صنائع بدائع د فن کاريګري ده چې دې سره د يو شاعر په کلام کښې معنوي او لفظي حسن سره سره د شعر په معنی او مفهوم کښې هم ژورتيا پيدا کيږي ـ صفير احمد جان د علم بديع وضاحت څۀ داسې کړے دے:

"بدیع اس علم کا نام ہے جس میں صنائع معنوی، لفظی بیان کی جاتی ہیں اور یہ صنائع تزئین کلام کا باعث ہوتی ہیں۔"(3)

نو د دې نه دا څرګندېږي چې علم بديع هغه علم دے چې د دې په ذريعه په يو شعر کښې ښکلا پيدا کيږي يعنې په کلام کښې صنائع بدائع يو داسې اضافي قدر دے کوم چې کلام ته يو جمالياتي رنګ وربخښي او د دې سره د کلام په فني خوبۍ کښې معنوي او لفظوي ژورتيا راځي ـ

دغه رنګ زمونږ د پښتو په کلاسيکي شاعرۍ کښې دا قسمه فني خوبۍ د زيات تره شاعرانو په شاعرۍ کښې په نظر راځي چې په دغو کلاسيکي شاعرانو کښې ستر صوفي بزرګ شاعر حضرت شاه بابا المعروف اخون بابا په کلام کښې هم صنائع بدائع حسن په کثرت سره ليدے شي چې د دوي د فن په ښکلا دلالت کوي ـ

چې دلته ئې په دغه بابله د شاعرۍ دغه ګنج راسپړو ـ

(لفظوي صنائع)

صنعتِ تجنيس مضارع:

په شعر يا کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې د حرفونو تعداد ئې يو هومره برابر وي خو د يو حرف په کښې مختلف وي دا صنعت تجنيس مضارع بللے شي، لکه د حضرت شاه بابا په شاعرۍ کښې غوره نمونې څۀ دَاسې دي:

سود د حال و مال ئې دے په دا کښې
حضرت شاه چې اخلي اسم د محبوب(4)

د دنيا په کاروان سرائے کښې ميشتۀ نۀ کړې
عاقبت له ځي خاروان زما د عمر(5)

صابري په زحمت نخښه د رحمت ده
خدايه مۀ مې کړې رقيب د حال غماز(6)

په دې شعرونو کښې "حال او مال"، "کاروان او خاروان" ، "رحمت او زحمت"

د تجنیس مضارع ښکلي مثالونه دي ـ

تجنیس مذیل:

دا تجنیس یو داسې قسم ګڼلے شي چې په دې کښې د متجانسینو په آخره کښې د دوو حرفونو کمے یا زیاتے وي نو دغه د حضرت شاه بابا په کلام کښې غوره مثال موندے شي:

که د مزاج د میني و نسیم حکیم ته
په مزاج نۀ پوهیږي حکیمان هیڅ[7]

په دې شعر کښې "حکیم" او "حکیمان" تجنیس مذیل دے ـ

تجنیس زائد:

په کلام کښې ځیني داسې دوه لفظونه راوړل چې د حرفونو په لحاظ په یو حرف د بل نه زیات یا کم وي دې ته تجنیس زائد وائي لکه حضرت شاه بابا په دې شعرونو کښې دا فني ښکلا څۀ داسې راوړلے شوې ده:

عاقبت په خو رایۍ سړے پښیمان شي
پښیماني په خپل ایوان کوي شداد[8]

ما فقط ښادي ونۀ لیده بې غمه
عالم وائي غم ښادي وي وار په وار[9]
په اجل پرې کړے عمر ګانده نۀ شي
که ګنډون کوي بزرګان زما د عمر[10]

هم دغه مې علامه د بې نیازۍ ده
چې مُدام مې ذے و خپل اشنا ته نیاز[11]

عشق دولت وۀ د مفلسو عاشقانو
چې هم غم وۀ، هم غمخوار وۀ خش خش[12]

چې په سترګو ووم هجران عیب ژن کړے
هغه عیب مې بیا د وصل درمان وکیښ[13]

تجنیس خطي:

دا د تجنیس هغه قسم دے چې متجانسین پکښې د هیئت نه پرته په املاء کښې یو شانوالے لري خو د نقطو په لحاظ د یو بل نه جدا لفظ وي لکه چې وائي:

په جفا وفا کښې تیغ د یار د سترګو

چې هم پخ وۀ، هم ابدار وۀ خش خش[14]

په دې شعر کښې "جفا او وفا" متجانسېن دي خو د يوې نقطې د "ج" او "و" په لحاظ سره فرق لري ـ

تجنيس تام مماثل:

په شعر يا کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړلو سره چې په تلفظ او وزن او ترتيب شکل ئې يو شانوالے لري مطلب دواړه خو يو شان وي يا دواړه اسمونه يا دواړه فعلونه وي نو دې ته تجنيس تام مماثل وئيلے شي لکه شاعر په دې شعر کښې څۀ ښکلي فرمائيلي دي:

که تور خط په سپين ورق زينت نُمائے دے
مساوي نۀ دے له زلف و خط و خاله[15]

د دې شعر په وړومبۍ مصرعه کښې د خط نه مراد د کاغذ تحريري خط او په دوېمه مصرعه کښې د خط نه مراد د محبوب خط دے چې دا دواړه اسمونه دي په دې صنعت سره په شعر کښې لفظوي حسن يو په دوه سېوا شوے دے ـ

تجنيس مطرف:

کله چې په يو شعر کښې دوه داسې متجانسېن راشي چې په آخر کښې د يو حرف کمے زياتے وي لکه د شاعر په دې شعرونو کښې چې داسې راغلي دي:

ما په لس خېراته يو وصال بيا نۀ موند
ملايان که يو خېرات وائي په لس[16]

څو په شل بېته ئې ختم پوره نۀ کړم
تم به کړمه دا غزل په نهۀ لس[17]

ما رقيب دے له حرمه بېرون کړے
که ئې ياد هم بېرا نۀ کړي په اخلاص[18]

دا چې زۀ دا ستا له غم سره اشنا شوم
د جهان له نوره غمه بې پروا شوم[19]

په دې شعرونو کښې دا صفت څۀ داسې پکارولے شوے دے ـ په وړومبي شعر کښې "خېراته، خېرات"، "کړم کړمه"، "بېرون، بېرانه"، "غم، غمه" په دې کښې د حرف د کمې او بلکې د سېوا والي په وجه تجنيس مطرف ګڼلے شي ـ

صنعتِ تلميح:

په کلام کښې يوې داسې زرې او تاريخي واقعې ته اشاره کولو ته صنعت تلميح وائي لکه حضرت شاه بابا په دې شعرونو کښې د تلميح ډېر په ښکلي ډول سرَه

ژوندي مثالونه راوړي دي:

لکه حُب د حضرت شاه په خپل حبیب د ے
د محمود به دومره نۀ وۀ په آیاز[20]

دا ازار د زلېخا د عاشقۍ وۀ
چې یوسف د اسیرۍ په زندان کېښوت[21]

چې مجنون ته ښۀ ښکاره د لیلا مخ
تر بلا بد ورښکاره شۀ د دنیا مخ[22]

چې ځا ے د شفقت پرې ابنے نۀ وۀ
سکندر ته ولاړ نۀ وۀ ذ دارا مخ[23]

چې ئې حب د شهادت لاړۀ په زړۀ کښې
حسېن نۀ جار ایست له دشت کربلا مخ[24]

چې یوسف کاتۀ و خپلو معجزو ته
بې نګاحه ئې نۀ کوت د زلېخا مخ[25]

ازلي قسمت به دا بد لاوۀ نۀ شي
که څوک ړوند شي په ژړا لکه یعقوب[26]

خپل احسان مې عاقبت د ځان تاوان شۀ
خپل چمجي په ځان بلا وۀ د ایوب[27]

افلاطون نه قراطیس د چا په یاد وۀ
که حرفت د حکمت نۀ وي د لقمان هېڅ[28]

د زړۀ سر مې جدایۍ هسې پاره کړ
لکه غر مې پاره کړے وۀ فرهاد[29]

هغه دم نوح په عتاب ګرفتاربړي
که پِسر ئې له ورطې د طوفان وکېښ[30]

چې همراه له سلطنته نبوت شۀ
ملک د یو د اِنس و جن سلېمان وکېښ[31]

صنعتِ فقه:

دا هغه صنعت دے چې په کلام کښې داسې خبرې کول چې تعلق ئې د فقهې سره وي لکه بابا چې وائي:

په حديث کښې دي راغلي، خدا ے مئين وي
په هغو چې ئې خصلت وي عبادت پت[32]

ما وئيلے په ممبر دے دا حديث
چې مې ښکلے په دفتر دے دا حديث[33]

حضرت شاه پټه تقوٰی د خدا ے مرضي ده
فرمائيلے پېغمبر دے دا حديث[34]

صوفيانه مجلس کوه مۀ کړه بدعت
چې عمل نۀ په آيات نۀ په حديث کا[35]

دين دنيا مې دواړه هواره کړه ستا په مخ
نمونځ روژه مې دواړه دوباره کړۀ ستا په مخ[36]

د عقبا له وحشتونو به محفوظ شي
که حافظ د صوم صلوٰت شي په حرص[37]

که خرۀ دجال د محمد د دين خفت نۀ غوښتي
د مدينې له نواحۍ به دجال چا په خۀ ايست[38]

صنعتِ تضمين:

په کلام کښې د يو بل چا شاعر د شعر څۀ برخه د حوالې او اشارو سره راوړل او د هغه شاعر د شعر په زمکه خپل شعرونه ليکلو ته تضمين وائي ـ حضرت شاه بابا د رحمان بابا د شعر په يوه مصرعه خپل تضمين څۀ داسې کړے دے:

"مجلس بې تاثيره نۀ وي دا حديث دے"
ما وئيلے مکرر دے دا حديث[39]

صنعتِ اقتباس:

په کلام یا اشعارو کښې د قران حدیث څښې اقتباس راوړلو سره صنعتِ اقتباس بللے شي لکه شاعر په دې شعرونو کښې څۀ داسې راوړي دي:

په معراج مشرف شوے په ژوندون دے
"واسرٰی بعبدهٖ" په اقتضا[40]

د وروستي شعر په دوېمه مصرعه کښې "اسرٰی بعبده" د قرآن پینځلسمه سیپاره (بني اسرائیل سورة الاسراء، آیت نمبر: ۱) اقتباس ذکر دے۔[41]

شهادتونه شاهدي لي په دا حکم
له هغو "قاب قوسین" لو انا[42]

په دوېم شعر کښې د "قاب قوسېن" د قرآن اوویشتمې سیپارې نه د (سورة نجم، آیت: ۹) نه اقتباس دے۔[43]

حضرت شاه وصل په پرهېز کښې بیا موند
"فاتقو الله یا اولي الالباب"[44]

د شعر په دوېمه مصرعه کښې د قرآن نهۀ ویشتمې سیپارې (سورة طلاق، آیت : ۱۰) اقتباس دے۔[45]

اے زما "حي و قیوم" و ذوالجلاله
په هر کار باندې قادره برکماله[46]

د شعر په ورمبۍ مصرعه کښې د قرآن د درېمې سیپارې نه (آیت الکرسي، آیت ) اقتباس اخستے شوے دے۔ چې دا د حضرت شاه بابا په علمیت او فن دلالت کوي۔[47]

(معنوي صنائع)

صنعتِ طباق یا تضاد:

صنعت طباق یا تضاد په کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې هغه د یو بل ضد وي یا متضاد وي داسې صنعت ته تضاد یا طباق وئیلے شي لکه حضرت شاه بابا په دې شعرونو کښې صنعت څۀ داسې راغلے دے:

مخ دې سفېد دے له دې شمس و قمر
زلفې دې تورې له وزر د غراب[48]

که مې سپین شي په ژړا د سترګو تور
هغه دم چې مخ راواړوي وماته[49]

زۀ دریاب د بېلتانۀ یم لاهو کړے
پښې مې نۀ لګي په اوچه په ساحل[50]

تر ګرېوان مې هېچرې نۀ شۀ په دا اوچ
ما به لوند کړو د چشمانو په نم زر زر[51]

سرخ روئي د مؤمنانو په تقوٰی شي
تا ګڼلې ده تقوٰی توره بلا [52]

ګرګ زاده په نصيحت نۀ سړے کېږي
وپوهېږه په روا په ناروا[53]

چې شريک په انديښنه درسره نۀ وي
تر هغه اشنا بهتر دے نا اشنا[54]

چې تۀ ژاړې، دې خندا درپورې کاندي
پکار نۀ ده لۀ هغۀ سره خندا[55]

تاريکي د هجر پرېوته په زمکه
له اسمانه مې هلال د وصل پرېوت[56]

چې مخلصو له عزت نۀ ورکوينه
حضرت شاه داسې نۀ دے بې عزت[57]
د مفلسو په دعا هغه کار کېږي
چې ئې کړے نۀ شي په زور او بادشاهان هېڅ[58]

بدو چارو نه غافل وي
نېک عمل وته بېدار[59]

ما دې خدائے دا هسې نۀ کړي بې تميز
چې د يار د اغيار نۀ کوم تميز[60]

مهجور زړۀ مدام د وصل په ارزو کښې
چې هم روغ وۀ هم بيمار وۀ خش خش[61]

لکه په وړومبي شعر کښې "سفېد او تورې" دوېم شعر کښې "سپين او تور"

دریم شعر کښي "دریاب او اوچه" څلورم شعر کښي "اوچ، لوند" او پنځم شعر کښي "سرخ روټي او توره بلا" په شپږم شعر کښي "روا او ناروا" په اووم شعر کښي "اشنا نا اشنا" اتم شعر کښي "ژاړي او خندا" نهم شعر کښي "زمکه اسمانه" لسم شعر کښي "عزت او بي عزت" یوولسم شعر "مفلس او بادشاه" دولسم شعر "د بدو چارو نېک عمل" دیارلسم شعر "بي تمیز او تمیز" څوارلسم شعر کښي "روغ او بیمار" په دې ټولو شعرونو کښي دا لفظونه د یو بل تضاد راوړے شوي دي چې د شاعر په کلام کښې ئې یوه فني ښکلا پېدا کړې ده ـ

صنعتِ لف و نشر غېر مرتب:

دا لف او نشر هغه قسم دے چې په دې کښي د لفظونو ترتیب هم نهٔ وي ساتلے شوے او نهٔ د یو بل اپوټه وي مطلب دا چې نهٔ ذاسې قسمه لف او نشر ته غېر مرتب وائي لکه د شاعر په شعر کښي غوره مثال دے:

سود او زیان په برابر وېشلے شوي
غم په قدر د ښادۍ وي د هر چا(62)

په دې شعر کښي د "سود سره ښادي" او "زیان سره غم" نسبت شوے دے خو په غېر مرتب کښې بیان شوي دي ـ

صنعتِ عکس:

دا هغه صنعت دے چې دې ته صنعت قلب هم وئیلے شي ـ په دې صنعت کښي د شاعر په کلام کښي ځیني کلماتو د لوستو نه مخکښې راوړلے شي چې د حضرت شاه بابا په دې شعرونو کښې ښکلے مثال پېش کولے شي:

غم زما غم خوار زما، دواړه دي خپل یار زما
دواړه دي خپل یار زما، غم زما غم خوار زما

کار زما روزګار زما، بي عشقه بل هېڅ نشته
بي عشقه بل هېڅ نشته، کار زما روزګار زما
(63)

صنعتِ تدبیج:

په کلام کښي د مختلفو رنګونو ذکر کولو سره په شعر کښې فني ښکلا پېدا کېږي لکه شاعر وائي:

ستا د مخ سرخ و سفېد مې دواړه وژني
څهٔ په واورو سرے سوے څهٔ په اور(64)

په دې شعر کښي د ښکلي مخ د سرخ سره د اور او سور والي تشبیه ده او د سفېد سپین سره د سپینو واورو سره تشبیه په ورکولو د دې شعر په فني او معنوي

ښکلا سپوا شوې ده ـ

صنعتِ تنسيق الصفات:

دا هغه صنعت دے چې په يو کلام کښې ګڼ صفتونه بيان شي لکه حضرت شاه بابا چې د عشق حقيقي مينې په صفت دوا ړه صفات څۀ داسې بيانوي:

جونــه، براقونــه، پوشــاکونه، نعمتونــه
ما په خپله مينه چکاره کړه ستا په مخ(65)

صنعتِ ارسال المثل يا ايراد المثل:

په کلام کښې متل يا نقل په يوه داسې ښکلې خاصه طريقه کښې راوړل چې د شعر خوند او تاثير ورسره سپوا کيږي ـ صنعت ارسال المثل بللے شي چې د حضرت شاه بابا په دې شعرونو کښې ئې غوره مثالونه دي:

اول وخوره د خان غوښې بيا د ښکار خوره
چې خوند درکړي په تلخۍ پسې نبات(66)

تاندي په سبب د وچو سوزي دا دستور دے
نۀ دې ګوي څوک په ديوانه پورې خندا(67)

محبــت لــه محبتــه پيــدا کيــږي
پــه زور کلــه پيــدا کيــږي محبــت(68)

که هر څو حضرت شاه بابا د رحمان نه په فکري لحاظ سره ډېر متأثره دے او د هغۀ اسلوب ئې خپل کړے دے او ځينې کلامونه ئې د رحمان بابا د کلام په زمکه تضمين کړي هم دي خو بيا هم د دوي په ديوان کښې ډېر کلامونه د فن په لحاظ سره د صنائع او بدائع يو خپل رنګ او آهنګ ښکلا لري او دغه ئې يو فطري انداز دے چې د حضرت شاه بابا کلام ته ئې د تشبيهاتو استعاراتو په رنګ کښې يوه معنوي او لفظي ژورتيا او فني ښکلا ورښښلې ده ـ

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

## حوالې

1) عابد علی عابد، "اُصولِ انتقادیات"، س ن، ص 225
2) مرزا محمد عسکری، "آئینۂ بلاغت"، لکھنؤ اُترپردیش اُردو اکادمی، صوفی پبلشرز، 1339ھ، ص 167
3) صغیر احمد جان، "صحیفۂ فنونِ ادب"، س ن، ص 223
4) سید حضرت شاه عرف اخون بابا، "د حضرت شاه دیوان"، سمؤنه او څېړنه ډاکټر عبدالله جان عابد، ګران خپروندویه ټولنه، ۲۰۲۳ء، مخ ۱۳۶
5) هم دغه اثر، مخ ۱۷۱
6) هم دغه اثر، مخ ۱۷۹
7) هم دغه اثر، مخ ۱۵۶
8) هم دغه اثر، مخ ۱۶۳
9) هم دغه اثر، مخ ۱۷۰
10) هم دغه اثر، مخ ۱۷۱
11) هم دغه اثر، مخ ۱۷۹
12) هم دغه اثر، مخ ۱۸۴
13) هم دغه اثر، مخ ۱۸۶
14) هم دغه اثر، مخ ۱۸۴
15) هم دغه اثر، مخ ۲۱۴
16) هم دغه اثر، مخ ۱۸۱
17) هم دغه اثر، مخ ۱۸۳
18) هم دغه اثر، مخ ۱۸۹
19) هم دغه اثر، مخ ۱۹۵
20) هم دغه اثر، مخ ۱۷۹
21) هم دغه اثر، مخ ۱۳۸
22) هم دغه اثر، مخ ۱۵۹
23) هم دغه اثر، مخ ۱۵۹
24) هم دغه اثر، مخ ۱۵۹
25) هم دغه اثر، مخ ۱۵۹
26) هم دغه اثر، مخ ۱۳۶
27) هم دغه اثر، مخ ۱۳۶
28) هم دغه اثر، مخ ۱۵۶
29) هم دغه اثر، مخ ۱۶۳
30) هم دغه اثر، مخ ۱۸۶
31) هم دغه اثر، مخ ۱۸۶
32) هم دغه اثر، مخ ۱۴۶
33) هم دغه اثر، مخ ۱۴۸
34) هم دغه اثر، مخ ۱۴۹
35) هم دغه اثر، مخ ۱۴۱
36) هم دغه اثر، مخ ۱۵۸
37) هم دغه اثر، مخ ۱۸۸
38) هم دغه اثر، مخ ۱۳۹
39) هم دغه اثر، مخ ۱۴۸
40) هم دغه اثر، مخ ۱۱۸
41) القرآن پاره ۱۵، بني اسرائیل سورة الاسراء، آیت نمبر ۱
42) سید حضرت شاه عرف اخون بابا، "د حضرت شاه دیوان"، سمؤنه او څېړنه ډاکټر عبدالله جان عابد، ګران خپروندویه ټولنه، ۲۰۲۳ء، مخ ۱۱۸

43) القرآن پاره ۲۷، سورة نجم، آیت نمبر ۹
44) سید حضرت شاه عرف اخون بابا، "د حضرت شاه دیوان"، سمؤنه او څېړنه ډاکټر عبدالله جان عابد، ګران خپروندویه ټولنه، ۲۰۲۳ء، مخ ۱۳۵
45) القرآن پاره ۳، سورة طلاق، آیت نمبر ۱۰
46) سید حضرت شاه عرف اخون بابا، "د حضرت شاه دیوان"، سمؤنه او څېړنه ډاکټر عبدالله جان عابد، ګران خپروندویه ټولنه، ۲۰۲۳ء، مخ ۲۱۴
47) القرآن پاره ۳، سورة البقره، آیت نمبر: ۲۵۵
48) سید حضرت شاه عرف اخون بابا، "د حضرت شاه دیوان"، سمؤنه او څېړنه ډاکټر عبدالله جان عابد، ګران خپروندویه ټولنه، ۲۰۲۳ء، مخ ۱۳۴
49) همدغه اثر، مخ ۱۷۲
50) همدغه اثر، مخ ۱۹۱
51) همدغه اثر، مخ ۱۷۴
52) همدغه اثر، مخ ۱۲۳
53) همدغه اثر، مخ ۱۲۳
54) همدغه اثر، مخ ۱۴۰
55) همدغه اثر، مخ ۱۲۶
56) همدغه اثر، مخ ۱۴۰
57) همدغه اثر، مخ ۱۴۱
58) همدغه اثر، مخ ۱۵۵
59) همدغه اثر، مخ ۱۷۵
60) همدغه اثر، مخ ۱۷۹
61) همدغه اثر، مخ ۱۸۴
62) همدغه اثر، مخ ۱۲۶
63) همدغه اثر، مخ ۱۲۹
64) همدغه اثر، مخ ۸۴
65) همدغه اثر، مخ ۱۵۸
66) همدغه اثر، مخ ۱۴۲
67) همدغه اثر، مخ ۱۳۰
68) همدغه اثر، مخ ۱۴۱